د ۲۰۱۹ کال د اکتوبر ۱۷

UNAMA
Human Rights Service
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

## په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه درې میاشتنی راپور

## د ۲۰۱۹ کال د جنوري د ۱ څخه د سپټمبر تر ۳۰ پورې

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) د ۲۰۱۹ کال د دریمې ربعې پر مهال د تاوتریخوالي د بې ساري کچې په اړه چې ملکیانو ته زیان اړوي، ژوره اندیښنه لري. د ۲۰۱۹ کال د جولای د ۱ څخه د سپټمبر تر ۳۰ پورې، یوناما په یوه ربع کې چې کله دې دفتر په ۲۰۰۹ کال کې په سیستیماتیک ډول ثبتولو پیل وکړ، د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړه شمیره مستند کړې. په داسې حال کې چې د ۲۰۱۹ په لومړۍ نیمایي کې یوناما د تیر کال په پرتله د ملکي تلفاتو په برخه کې کموالی مستند کړی، د جولای، اګسټ او سپټمبر په میاشتو کې د تاوتریخوالی لوړو کچو د ملکي تلفاتو کچې د تیرو کلونو د نه منلو لوړو کچو ته لوړې کړې. د دې علاوه، د جولای په میاشت کې، یوناما د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړ شمیر کوم چې ماموریت په یوه میاشت کې مستند کړی، ثبت کړي. د شخړې په تړاو د ښکیلو ډلو د بیانونو سربیره تر څو ملکیانو ته د زیان د اوښتو څخه مخنیوی وکړي او کچه یې را ټیټه کړي، په پرله پسې ډول د شپږم کال لپاره، یوناما د کال په لومړیو نهو میاشتو کې تر ۸۰۰۰ ډیر ملکي تلفات ثبت کړي، دا دې ته اشاره کوي چې افغانان د کلونو راهیسې د تاوتریخوالي د خورا لوړې کچې په معرض کې واقع دي.[1]




د جنوري د ۱ څخه د سپټمبر تر ۳۰ پورې، یوناما ټولټال ۸۲۳۹ ملکي تلفات (۲۵۶۳ مړه او ۵۶۷۶ ټپیان) مستند کړي، چې دا د ۲۰۰۸ کال کې د ورته مودې سره په سمون کې دي . د ۲۰۱۹ کال د لومړیو نهو میاشتو برعکس چې کله دولت پلوه ځواکونه د زیاتو ملکي مړینو لامل شو، د ۲۰۱۹ کال په لومړیو نهو میاشتو کې دولت ضد عناصر په هیواد کې د زیاترو ملکي تلفاتو لامل

[1] د بیلګې په توګه، د ۲۰۱۹ کال په ۲۱ د شمشاد تلویزیون سره د ولسمشر غني مرکه وګورئ، چې په ۱۰: ۵۹ دقیقو پیلیږي، په لاندې بریښنایي پته https://www.youtube.com/watch?v=M_4uR6dBCus. د لاسرسي وړ ده.

شوي او همدارنګه يې د دولت پلوه ځواکونو په پرتله يو څه زيات ملکي وګړو د وژنې لامل شوی . ټولو ملکي تلفاتو ۴۱ سلنه ښځې او ماشومان وو.[2]

هغه ملکي وګړي چې په کابل، ننګرهار، هلمند، غزني او فارياب ولايتونو کې اوسيږي، زياتره يې د جګړې له امله په مستقيم ډول اغيزمن شوي دي په بره ترتيب).[3]

د ۲۰۱۹ کال په لومړيو نهو مياشتو کې، د ځانمرګو او غير ځانمرګو په لاس جوړ ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو کڅ کارول[4] د ملکي تلفاتو مخکښه لامل پاته شوی چې د ټولټال مجموعي د ۴۲ سلنې لامل شوی، چې د ۲۰۱۹ کال د لومړيو دوو ربعو څخه وروسته ۲۸ سلنه لوړ شوی. ځمکنۍ نښتې د ملکي تلفاتو دوهم مخکښه لامل وو (۲۹ سلنه)، ورپسې هوايي بريدونه وو (۱۱ سلنه). هوايي عمليات د ملکي مرګ ژوبلې د پيښې مخکښه نوعيت پاتې شوی، چې د ملکي تلفاتو د ۲۳ سلنه لامل کيږي.[5]

د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې په پرتله، د ۲۰۱۹ کال د جنوري له ۱ څخه د سپټمبر تر ۳۰ پورې، يوناما د هوايي او تلاشي عملياتو په نتيجه کې د ملکي تلفاتو په برخه کې او همداراز د جګړې څخه د پاته شونو چاوديدونکو توکو او غير ځانمرګې په لاس جوړ چاوديدونکو توکو په نتيجه کې د ملکي تلفاتو په برخه کې دوامداره زياتوالی مستند کړی دی. که څه هم چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله د ځانمرګو او غير ځانمرګو بريدونو په نتيجه کې ملکي تلفات کم شوي، د دريمې ربعې په جريان کې د پيښې د دغو نمونو په




[2] د ۲۰۱۹ کال په اولو نهو مياشتو کې، يوناما د ښځو ټولټال ۹۲۳ تلفات( ۲۵۱ مړه آو ټپيان ۶۶۲ ټپيان) او د ماشومان ټولټال ۲۴۶۱ تلفات( ۶۳۱ مړه او ۱۸۳۰ ټپيان) مستند کړي.

[3] يوناما په هر اړوند ولايت کې لاندې ملکي تلفات مستندې کړي: کابل (۱۴۹۱)، ننګرهار (۸۲۴)، هلمند (۵۶۳)، غزنی (۵۴۷)، او فارياب (۵۳۰).

[4] د پيښې ډول " په لاس جوړ ځای پر ځای شوي ځانمرګی چاوديدونکي توکي" "پيچلي بريدونه" احتوا کوي، کوم چې د يوناما لخوا د قصدي او همغږي بريدونو په حيث تعريف شوي چې پکې د ځانمرګي وسيله شامله ده، له يوه څخه زيات بريد کونکي او له يوه څخه زيات توکي شامل دي. ټول درې واړه عناصر بايد د حملې لپاره موجود وي تر څو پيچلي او همغږي ورته وويل شي. د ټرمينولوژی په اړه د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د يوناما د ۲۰۱۸کال راپور کې وګورئ، په آنلاين بڼه په لاندې انټرنيټي پته د لاسرسي وړ ده: https://unama.unmitted.org/protication-of-civians-report

[5] د پرتله کولو لپاره، د ۲۰۱۸کال په اولو دريو ربعو کې، هوايي بريدونه د ټولو ملکي تلفاتو د ۱۲ سلنې لامل شوې. د يادونې وړ ده چې ځانمرګي او غير ځانمرګي په لاس جوړ ځای پر ځای شوي چاوديدونکي توکي د پيښو د جلا ډولونو څخه شميرل کيږي.

پایله کې د تاوتریخوالي په برخه کې د پام وړ چټک زیاتوالی د یادونې وړ دی. پداسې حال کې چې د ځمکنیو نښتو له امله د ملکي تلفاتو کچه د کال په نیمايي موده کې ۱۵ سلنه را ټیټه شوې، یوناما د ۲۰۱۹ کال په دریمه ربع کې د دې پېښې په ډول کې د پام وړ زیاتوالی مستند کړی. دې د ځمکنیو نښتو په پایله کې د ملکي تلفاتو کچې د ۲۰۱۹کال په لومړیو نهو میاشتو کې هغو ورته کچو ته ورسولې کوم چې د ۲۰۱۸ کال په ورته موده کې د پیښو په هغو نمونو کې را منځ ته شوي وې. دا تر یوې اندازې پورې د ملکي تلفاتو په مسله پورې اړه لري چې د دریمې ربعې پر مهال د ولسمشرۍ ټاکنو په جریان کې د غیر مستقیمو ډزو له امله رامنځ ته شوې.[6]

## د دریمې ربع په جریان کې د تاوتریخوالي ډیریدل

د تاوتریخوالي د ډیریدو له امله چې ملکي وګړي یې په جدي ډول اغیزمن کړي، د ۲۰۱۹ کال دریمه ربعه په ځانګړي توګه شورشناکه او متمرده ثابته شوې. لکه څنګه چې د جولای او اګست د میاشتو په اوږدو کې په دوحه کې د متحده ایالتونو او طالبانو ترمنځ خبرو پرمختګ وکړ، د تاوتریخوالي له امله چې کوم ملکي تلفات را منځ ته شوې، لوړ شوې. د ۲۰۱۹ کال د جنوري د ۱ نیټې څه د سپټمبر د میاشتې تر ۳۰ نیټې پورې، یوناما ټولټال ۴۳۱۳ ملکي تلفات (۱۱۷۴ مړه او ۳۱۳۹ ټپیان) مستند کړي. په ۲۰۰۹ کال کې د سیستماتیک مستند کولو له پیل راهیسې، دا د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړ ارقام دي چې یوناما په یوه واحده ربع کې ثبت کړې. د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې په پرتله[7]، د دریو میاشتو د مودې د ملکي تلفاتو ارقامو ۴۲ سلنه زیاتوالی موندلی. په ورته ډول، جولای میاشت د ملکي تلفاتو د لوړ شمیر شاهده پاته شوې چې یوناما تر اوسه په یوه میاشت کې ثبت کړې: ۱۵۸۹ ملکي تلفات (۴۲۵ مړینې او ۱۱۶۴ ټپیان). د دریمې ربع په جریان کې د ملکي تلفاتو په برخه کې زیاتوالی په ټولیزه توګه د دولت ضد عناصرو، په اوله درجه کې د طالبانو لخوا د ځانمرګو او غیر ځانمرګو په لاس جوړ ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د بریدونو په پایله کې د ملکي تلفاتو د پام وړ زیاتوالي له امله و.

## دولت ضد عناصر

د ۲۰۱۹ کال د جنوري له ۱ نیټې څخه د سپټمبر تر ۳۰ هغې پورې، دولت ضد عناصر د ټولټال ۵۱۱۷ ملکي تلفاتو (۱۲۰۷ مړه او ۳۹۱۰ ټپیان)[8] لامل شوې، چې دا د ټولو ملکي تلفاتو ۶۲ سلنه جوړوي. په داسې حال کې چې دا د ۲۰۱۸کال د ورته مودې په پرتله، دولت ضد عناصرو ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو په برخه کې ټولیز درې سلنه کمښت ښیي، د ملکي تلفاتو وروستی زیاتوالی چې طالبانو ته منسوبیږي د پام وړ دی. یوناما طالبانو ته ټولټال ۳۸۲۳ ملکي تلفات (۹۲۲ مړه او ۲۹۰۱ ټپیان) منسوب کړي چې د ټولو ملکي تلفاتو د ۴۶ سلنې څخه استازیتوب کوي. د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې په پرتله، د ۲۰۱۹ کال په لومړیو نهو میاشتو کې طالبانو ته منسوب شوې ملکي تلفات ۳۱ سلنه لوړ شوې.[9] خو، د ۲۰۱۸ کال د دریمې ربعې سره د ۲۰۱۹ کال د جولای، اګسټ او سپټمبر د میاشتو په پرتله کولو سره، معلومیږي چې طالبانو له درې چنده څخه زیات ملکي تلفات اړولي.[10]

---

[6] پداسې حال کې چې د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې په پرتله، د ۲۰۱۹کال په لومړیو نهو میاشتو کې د ځمکنیو نښتو په پایله کې د ملکي تلفاتو شمیر په نسبي ډول راکم شوی، دا په عمده ډول د ملکي تلفاتو په برخه کې د ۴۸ سلنه کموالی له امله دی چې یوناما نشي کولای هغه دولت ضد عناصرو یا دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي. د ځمکنیو نښتو له امله را منځ ته شوې ملکي تلفات چې یوناما وکولای شول دولت پلوه ځواکونو یا د دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي، د ۲۰۱۸ کال په پرتله د دریمې ربع په پای کې، په حقیقت کې په ۲۰۱۹ کال کې لوړ شوي.

[7] د ۲۰۱۸ کال د جولای د لومړي نیټې څخه د سپټمبر تر ۳۰ نیټې پورې، یوناما ۳۰۳۵ ملکي تلفات (۱۱۴۱ مړینې او ۱۸۹۴ ټپیان) مستند کړې. د ۲۰۱۹ کال د دویمې ربعې (۱ اپریل-۳۰ جون) په پرتله، د ۲۰۱۹ کال د دریمې ربعې (۱ جولای - ۳۰ سپټمبر) په جریان کې د ملکي تلفاتو کچه دوه برابره زیاته شوې.

[8] پدې کې د ښځو ۴۹۷ تلفات (۱۱۳ مړه او ۳۸۴ ټپیان) او د ماشومانو ۱۱۹۵ تلفات (۲۰۶ مړه او ۹۸۹ ټپیان) شامل دي.

[9] د ۲۰۱۸ کال په لومړیو نهو میاشتو کې، یوناما طالبانو ته ټولټال ۲۹۱۲ ملکي تلفات (۱۰۵۶ مړه او ۱۸۵۶ ټپیان) منسوب کړې.

[10] د ۲۰۱۸ کال په دریمه ربع کې د ټولټال ۷۳۷ ملکي تلفاتو (۲۸۷ مړه او ۴۵۰ ټپیان) په پرتله، د ۲۰۱۹ کال په دریمه ربعه کې، یوناما ټولټال ۲۳۲۲ ملکي تلفات (۴۹۱ مړه او ۱۹۳۱ ټپیان) طالبانو ته منسوب کړي

یوناما ټولټال ۱۰۱۳ ملکي تلفات (۲۲۹ مړه او ۷۸۴ ټپیان) داعش ته منسوب کړې چې دا د ټولو ملکي تلفاتو د ۱۲ سلنې څخه استازیتوب کوي. دا د ۲۰۱۸ کال د لومړیو نهو میاشتو په پرتله ۴۹ سلنه کمښت ښيي.[11] نا پېژاندو دولت ضد عناصرو ټولټال ۲۸۱ ملکي تلفات (۵۶ مړه او ۲۲۵ ټپیان) اړولي چې دا د ټولو ملکي تلفاتو د دری سلنې څخه استازیتوب کوي.

د ځانمرګو او غیر ځانمرګو په لاس جوړ ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو ګډ کارول د ملکي تلفاتو مخکښه لامل و چې دولت ضد عناصرو ته منسوب شوی چې وروسته ځمکنۍ نښتې او هدفي وژنې راځي. د ۲۰۱۸ کال په پرتله، یوناما د غیر ځانمرګو په لاس جوړ ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو (۲۷ سلنه) او ځمکنیو نښتو (۱۸ سلنه) په پایله کې کوم چې د ۲۰۱۹ کال په لومړیو نهو میاشتو کې دولت ضد عناصرو ته منسوب شوی د ملکي تلفاتو په برخه کې زیاتوالی مستند کړی. په دریمه ربعه کې د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو په پایله کې د ملکي تلفاتو سره سره، د پیښې د دې نمونې په پایله کې د ۲۰۱۹ کال په لومړیو نهو میاشتو کې په ټولیز ډول ملکي تلفات ۲۴ سلنه کم شوي. د دولت ضد عناصرو لخوا د ترسره شویو هدفي وژنو په پایله کې ملکي تلفات ۱۲ سلنه کم شوي.

### د بې توپیره ځانمرګي او غیر ځانمرګي په لاس جوړ ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو بریدونه

یوناما په ملکي سیمو کې د ځانمرګي او غیر خانمرګي په لاس جوړ ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د بې توپیره استعمال په اړه ژوره اندیښنه لري. د تیر کال په پرتله، یوناما د جنوري د میاشتې څخه بیا د سپټمبر تر میاشتې پورې د ځانمرګي او غیر ځانمرګي په لاس جوړ ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په پایله کې شپږ سلنه کمښت ثبت کړی، چې دا د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې په پرتله، د جولای، اګست او سپټمبر د میاشتو په اوږدو کې، د دې پیښو د دوو ډولونو په نتیجه کې د ملکي تلفاتو یو ټکان ورکونکي او له خطره ډک ۷۲ سلنه زیاتوالی ثبت کړی.

یوناما ټولټال ۱۷۷۹ ملکي تلفات ( ۳۰۰ مړه او ۱۴۷۹ټپیان) مستند کړي چې د ځانمرګي په لاس جوړ ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په پایله کې رامنځ ته شوي.[12] د ۲۰۱۸ کال د لومړیو دریو ربعو په پرتله، کله چې د ځانمرګي په لاس جوړ ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د بریدونو په پایله کې د داعش[13] لخوا زیات ملکي تلفات را منځ ته شو، د ۲۰۱۹ کال په لومړیو نهو میاشتو کې، د پیښې د دې نمونې په پایله کې طالبانو د ملکي وګړو درې پر څلورمه مرګ ژوبله اړولې. په ۲۰۱۹ کال کې د ټولټال ۳۳ ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو له جملې څخه طالبانو ۲۴ هغه ترسره کړي چې په نتیجه کې یې ټولټال ۱۳۲۷ ملکي تلفات (۱۴۹ مړه او ۱۱۷۸ ټپیان) اوښتي. د شپږو ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو په پایله کې داعش د ټولټال ۳۳۶ ملکي تلفاتو (۱۲۲ مړه او ۲۱۴ ټپیان) مسول و. پاته دری داسې بریدونه د نا پېژاندو دولت ضد عناصرو له خوا ترسره شوې چې په نتیجه کې یې ۱۱۶ ملکي تلفات (۲۹ مړه او ۸۷ ټپیان) اوښتي.

یوناما په ټول هیواد کې د یو شمیر بې توپیره او نا متناسبه ځانمرګو او پیچلو ډله ییزو تلفاتو د بریدونو په پایله کې، چې یو شمیر یې د جولای په میاشت کې ترسره شوي، ښوونځي او روغتونونه دواړه، اغیزمن کړي، ملکي وګړو ته پراخ اوښتی زیان مستند کړی دی. د جولای په لومړی نیټه، طالبانو په کابل کې د افغانستان د دفاع وزارت په یوه لوجیستیکي او انجینیري مرکز ډله ییز برید ترسره کړ چې په نتیجه کې یې ۱۵۱ ملکي تلفات ( د یو ماشوم په ګډون ۷ تنه مړه او د ۲۸ ماشومانو په شمول، ۱۴۴ ټپیان) را منځ ته شول. طالبانو په لاس جوړ د ځانمرګو ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو یوه بار موټر ته چاودنه ورکړه، په کلاشنیکوف سمبال دوو وسله واله کسانو ته یې موقع برابره کړه تر څو ودانۍ ته دننه شي. دوی پداسې حال کې ډزې وکړې چې دوه نور برید کونکي د ودانۍ پورته خالي پوړ ته چې د جوړیدو په حال کې وه، ننوتل، په داسې حال کې چې د ځمکې په پوړ کې یوه

[11] د ۲۰۱۸ په لومړیو نهو میاشتو کې، یوناما داعش ته ټولټال ۱۹۸۵ ملکي تلفات (۶۰۹ مړه او ۱۳۷۶) منسوب کړي.
[12] پدې کې د ښځینه وو ۱۸۷ تلفات (۱۳ مړه ټپیان) او د ماشومان ۳۵۵ تلفات (۳۳ مړه او ۳۲۲ ټپیان) شامل دي.
[13] د ۲۰۱۸ کال د جنوري له لومړی څخه د سپټمبر تر ۳۰ پورې، داعش د ځانمرګي په لاس جوړ ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د بریدونو په پایله کې ۱۷۴۱ ملکي تلفات اړولي، د دې پیښې د نمونې په پایله کې د ټولو ملکی تلفاتو د ۷۴ سلنې څخه استازیتوب کوي.

ښوونځي موقعیت درلود. د دې په تعقیب، د افغان پولیسو د CRU-222 ځانګړي واحد ځواکونه د پیښې ځای ته ورسیدل او برید یې پای ته ورساوه. په نږدې واټن کې شپږو ښوونځیو ته زیانونه اوښتي. یوازې شپږ ورځې وروسته، د جولای په ۷ نیټه، د غزنی په ښار کې، د ملي امنیت د ریاست د دفتر په ودانۍ کې، کومې چې د استوګنې په سیمه کې دریو ښوونځیو ته نږدې موقعیت درلود، د یوې نقلیه وسیلې پر مټ چې ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د یوې ځانمرګي وسیلې په حیث کاریدلې، برید ترسره کړ. د پایلې په توګه، د دریو ماشومانو په ګډون شپږ ملکیان مړه او د ۸۲ ماشومانو په ګډون ۱۶۸ ملکي وګړي ټپیان شوي. طالبانو د دواړو پیښو مسؤلیت په غاړه اخیستی.[14]

د سپتمبر په ۱۹، د زابل ولایت په کلات ښار کې د طالبانو په یوه ادعا شوي برید کې نور ۲۸ ملکي کسان وژل شوي او ۱۳۰ ټپیان شوي. ولایتي روغتون ته خیرمه د ملي امنیت د ریاست ولایتي دفتر ته نږدې یو موټر بم وچاودید. روغتون د چاودنې په واسطه هدف وګرزول شو، چاودنې ناروغانو، د کورنۍ کتونکو غړو، او د روغتیا پالنې ۱۹ کارکونکو ته تلفات واړول. د کلات ولایتي روغتون جوړښت او تجهیزاتو ته جدي زیانونه اوښتي او یو شمیر امبولانسونه هم ویجاړ شوي دي. طالبانو د پیښې




مسولیت په غاړه اخیستی.[15]

یوناما همدارنګه د دولت ضد عناصرو لخوا د ځانمرګي او غیر ځانمرګي په لاس جوړ ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د کارولو په نتیجه کې ملکي وګړو ته د پراخ زیان مستند کولو ته دوام ورکړی، چې د ۲۰۱۹ کال په لومړیو نهو میاشتو کې د ټولټال ۱۶۵۶ملکي تلفاتو (۳۴۵مړه او ۱۳۱۲ټپیان) لامل شوی[16]، دا د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې په پرتله ۲۶ سلنه ډیروالی ښيي. د فشار په ذریعه د په لاس جوړ ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو کارول، کوم چې د قرباني شخص په واسطه فعالیدونکي دي او د ځمکنیو ماینونو په حیث عمل کوي، د ځانګړي اندیښنې وړ دي. دغو په لاس جوړ ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو ۴۴۶ ملکي تلفات ( ۱۷۱ مړه او ۲۷۵ ټپیان) اړولي چې د ۹۵ سلنې څخه زیات یې طالبانو ته منسوب شوي. د جولای په ۱۵ د کندهار ولایت په خاکریز ولسوالي کې یوې نقلیه وسیلې چې د اټکل لسو موټرونو په یوه کاروان کې سفر کاوه د فشار په

---

[14] طالبانو د دواړو پیښو مسؤلیت په غاړه اخیستی، د جولای په لومړی نیټه طالبانو د پیښې پره په پښتو په ټویټر منلي، چې په لاندې انټرنیټي پته دhttps://twitter.com/Zabehulah_M33/status/1145704786181939200 لاسرسي وړ ده؛ او د جولای د ۵ نیټې پیښه طالبانو په ټویټر په انګلیسي ژبه منلې، په لاندې انټرنیټي پته https://twitter.com/Zabehulah_M33/status/1147744181366001664 د لاسرسي وړ ده.

[15] طالبانو په ټویټر په انګلیسي ژبه د پیښې مسؤلیت په غاړه اخیستی، په لاندې انټرنیټي پته د لاسرسي وړ دی: https://twitter.com/QyAhmadi_1/status/1174573369775316992?s=20.

[16] پدې کې د ښځینه وو ۱۲۳ تلفات (۴۲ مړه او ۸۱ ټپیان) او د ماشومانو ۴۱۸ تلفات (۹۱ مړه او ۳۲۷ ټپیان) شامل دي.

ذریعه پر فعالیدونکو په لاس جوړ ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو ور پیښه شوه چې په نتیجه کې یې ټولټال ۵۳ ملکیانو ته ( د ۴۰ ټپیانو په شمول ۱۳ مړه) تلفات واړول، چې زیاتره یې ښځې او ماشومان وو. ډیری تلفات د دوو موټرو څخه – چې یو یې ویجاړ او بل یې زیانمن شوی، را منځ ته شوې. طالبانو په جهاد غږ ویب سایټ ویلي، " په خاکریز کې د دوو موټرو په له منځه تلو کې د ۳۵ څخه زیات مړه او ټپیان شوي"، او ادعا کوي چې دوی د ملي امنیت ځواکونه په نښه کړي.[17] یوناما په روغتون کې د قربانیانو سره لیدنه کړې، چې پکې یو اته میاشتنی ماشوم په رواني لحاظ ټپي شوی و، او په هغه ورځ یې په هغه سیمه کې د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو د پیښو په اړه هیڅ راپور نه و ترلاسه کړی.

د جولای په ۳۱، د فراه ولایت د بالا بلوک په ولسوالۍ کې، کندهار ته په عمومي لویه لار یو روان بس موټر د فشار په ذریعه په لاس جوړ ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو ور پیش شو او وچاودید چې په پایله کې یې ۴۲ ملکي تلفات (۲۴ مړه او ۱۸ ټپیان) را منځ ته شول. د سپټمبر په ۳، طالبانو ویلي چې د ملکي تلفاتو د ساتنې او د شکایتونو کمیسیون یې د تحقیق په موخه ساحې ته یو ټیم استولی، د پیښې مسؤل یې نیولی او شرعي محکمو ته یې استولی.[18]

یوناما یوځل بیا تاکید کوي چې په لاس جوړ ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو بې توپیره او نا متناسب بریدونه د نړیوال بشردوستانه قانون څخه جدي سرغړونه ده چې کیدای شي په جنګي جرمونو کې راشي. یوناما د دولت ضد عناصرو څخه بیا غوښتنه کوي چې د ټولو په لاس جوړ ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو بې توپیره او نامتناسبه کارونه په سمدستي توګه، په ځانګړې توګه په هغو سیمو کې چېرې چې ملکیان اوسیږي، د ځانمرګي او ډله ییزو بریدونو پر مهال د په ځان پورې د تړلو په لاس جوړ ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو او په موټر کې د په لاس جوړ ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د کارولو په شمول، ودروي. یوناما د دولت ضد عناصرو څخه غوښتنه کوي چې په سمدستي توګه د فشار په ذریعه په لاس جوړ ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو کارول چې په خپل ذات کې بې توپیره دي، ودروي. دغه وسایل د قرباني شخص په ذریعه فعالیږي او د ځمکنیو ماینونو په توګه کار کوي او ملکي وګړي په ډیر خطر کې اچوي ځکه چې د دوی اغیزې یوازې د پوځي اهدافو په لور نشی رهبري کیدای.

### د ټاکنو اړوند تاوتریخوالی

د ۲۰۰۴ راهیسې، د سپټمبر په ۲۸، افغانستان د ولسمشرۍ څلورمې ټاکنې ترسره کړې. د مخ پر زیاتیدونکو ملکي تلفاتو په زمینه کې، د ۲۰۱۸ کال د پارلماني ټاکنو په پرتله،[19] د هغو میاشتو په موده کې چې د رای ورکولو ورځې ته په نږدې کیدو وې، د ټاکنو په تړاو د تاوتریخوالي په نتیجه کې را منځ ته شویو ملکي تلفاتو کچه نسبتا ټیټه وه. د جولای او سپټمبر په میاشتو کې د ټاکنو پر اړوندو سایټونو دوه ځانمرګي بریدونه د ګڼ شمیر ملکي تلفاتو، ۱۵۲ ملکي تلفاتو (۵۱ مړه او ۱۰۱ ټپیان) لامل شوي، دې د رایې ورکونې د ورځې د امنیت په اړوند اندیښنې راپورته کړې. طالبانو د اګست او سپټمبر په میاشت کې درې اعلامیې خپرې کړې او افغانانو ته یې خبرداری ورکړی چې ممکن د ټاکنو غونډې او لاریونونه هدف وګرزوي او له ښوونکو او زده کونکو

---

[17] طالبانو د ۲۰۱۹ کال د جولای پر ۱۶ دغه اعلامیه په انګلیسي ژبه په خپله ویب پاڼه خپره کړې، په لاندې پته د لاسرسي وړ دی: http://alemarahenglish.com/?p=48668.

[18] طالبانو دا اعلامیه د ۲۰۱۹ کال د سپټمبر په دریمه په انګلیسي په خپله ویب پاڼه خپره کړه چې په لاندې انټرنیټي پته د لاسرسي وړ ده: http://alemarahenglish.com/?p=51111.

[19] د ټاکنو په تړاو د تاوتریخوالي په اړه د پارلماني ټاکنو اړوند د نورو معلوماتو لپاره، په ۲۰۱۸ کال په مې او نومبر میاشتو کې د یوناما له خوا دوه ځانګړي خپاره شوي راپورونه وګورئ چې په لاندې انټرنیټي پته د لاسرسي وړ دي: http://unama.unmitted.org/protication-of-civians-report.

شخه یې وغوښتل چې د رایې ورکولو له مرکزونو څخه چې په ښوونځیو کې موقعیت لري او ممکن د بریدونو هدف وګرځي، فاصله ونیسي.[20]

پداسې حال کې چې یوناما د رای ورکونې په ورځ د ډله ییزو تلفاتو کومې پیښې ندي ثبت کړي، د سپتمبر په ۲۸ په ټاکنو پورې اړوند تاوتریخوالی د ټولټال ۲۷۷ ملکي تلفاتو (۲۸ مړینې او ۲۴۹ ټپیان) لامل شوی. د ملکي تلفاتو شاوخوا ۹۵ سلنه د طالبانو د پراخو عملیاتو له امله را منځ ته شوې چې موخه یې د ولسمشرۍ د ټاکنو ګډوډول وو، پاتې برخه د دولت ضد عناصرو او افغان امنیتي ځواکونو ترمنځ د ډزو د تبادلې پیښو ته او یوه پیښه په کومه کې چې دولت پلوه وسله والې ډله ښکیله وه، منسوب شوې.

د رایې ورکولو د ورځې پر مهال د ټولو ملکي تلفاتو د نیمایې برخې څخه زیاته هغه د ډزو د غیر مستیقیمو بریدونو له امله رامنځ ته شوې، د بیلګې په توګه، راکټونه، هاوانونه او لاسي بمونه، کوم چې د هدف ویشتلو دقیق سیسټمونه نه لري، کله چې د ملکي ګڼ میشتو سیمو څخه یا پر هغو ور وتوغول شي، نو بیا د بې توپیره اغیزو خطر زیاتیږي. د تایید شویو ملکي تلفاتو په منځ کې د ۲۳ ښځو (۴ مړه او ۱۹ ټپیان) او ۱۰۳ ماشومانو (۱۳ مړه او ۹۰ ټپیان) د مرګ ژوبلې خبر د جدي اندیښنې وړ ده، چې زیاتره یې پرته لدې چې په انتخاباتي پروسه کې برخه واخلي، د غیر مستقیمو ډزو د بریدونو په کارولو سره ډیر زیانمن شوي.

د نوم لیکنې د تقویتي پړاو پر مهال د لومړی ورځې څخه نیولې کوم چې د ۲۰۱۹ کال د جون په میاشت کې پیل او د سپتمبر په ۳۰ پای ته ورسید، یعنې د رایې ورکولو له ورځې څخه دوه ورځ  وروسته، په ټوله کې، یوناما د ټاکنو د اړوند تاوتریخوالي په پایله کې ټولټال ۴۵۸ ملکي تلفات (۸۵ مړه او ۳۷۳ ټپیان) مستندي کړي.

یوازې د ټاکنو په ورځ د ټولټال ۹۲ پیښو په شمول، یوناما همدارنګه د ګواښ، ډارونې او ځورونې په اړه ټولټال ۱۲۰ پیښې مستندې کړي. پدې کې په لاس جوړ یو شمیر زیات ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي کوم چې د رایې ورکونې په مرکزونو کې او یا هغو ته څیرمه ځای پر ځای شوې وو، شامل وو کوم چې د انفجار څخه وړاندې د افغان ملي او امنیتي ځواکونو لخوا کشف او شنډ کړای شوي وو. د ټاکنو د اتو کارکونکو په شمول، څوک چې د پروان ولایت د شینوارو په ولسوالی کې د ټاکنو په ورځ د ټاکینیز بهیر په تړاو تښتول شوي وو، یوناما د طالبانو له خوا د ټولټال ۲۴ ملکیانو تښتول تایید کړې.

یوناما د ملکي تلفاتو د پاته ادعاوو د سپیناوي او تصدیق په اړه چې د ټاکنو د اړوند تاوتریوالي څخه را منځ ته شوې، خپل کار ته دوام ورکوي. په ټاکنو پورې د اړوند تاوتریخوالي په اړه نور جزیات د ټاکنو د تاوتریخوالي په اړه د یوناما په ځانګړي راپور کې، چې د اکتوبر په ۱۵ خپور شوی، موندلای شي.[21]

یوناما د دولت ضد عناصرو څخه غوښتنه کوي چې د ټاکنو په تړاو د سایټونو پر وړاندې د بریدونو په شمول، د ملکي وګړو او ملکي زیربناوو پر وړاندې بریدونه په سم لاسي ډول ودروي. ماموریت د دولت ضد عناصرو څخه غوښتنه کوي چې د ملکي ګڼ

---

[20] طالبانو په خپله انګلیسي ویب پاڼه دوه بیانونه خپاره کړي، چې په لاندې انټرنیټي پته https://alemarahenglish.com/?p=49655 او https://alemarahenglish.com/?p=52430. د لاسرسي وړ دي، بل بیان په پښتو په ټویټر خپور شو چې په لاندې پته د لاسرسي وړ دی: https://twitter.com/Zabehulah_M33/status/1174192534354108416?s=20.

[21] د یوناما راپور د یوناما په ویب پاڼه په لاندې پته د لاسرسي وړ دی: http://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports.

میشتو سیمو څخه او په ملکي ګڼ میشتو سیمو کې د هاوانونو، راکټونو او لاسي بمونو توغول ودوري او همدارنګه ټول هغه عملونه چې د افغانانو په منځ کې ویره خپروي، ودروي.

### *د ملکي وګړو او ملکي شیانو پر وړاندې قصدي بریدونه*

په ټاکنو پورې د اړوند تاوتریخوالي سربیره، یوناما د ملکي خلکو پر وړاندې د قصدي بریدونو، په لاس جوړ د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو(IEDs) د کارولو پشمول، نورې قضیې مستندې کړي. د جنوري له ۱ څخه تر ۳۰ سپټمبر پورې، یوناما د ملکي وګړو پر وړاندې د قصدي بریدونو له امله ۲۳۱۳ ملکي تلفات (۵۹۳ مړه او ۱۷۲۰ ټپیان) مستند کړي، چې دا د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې په پرتله ۲۵ سلنه کموالی ښيي[22]. پداسې حال کې چې د ملکي تلفاتو مجموعي شمیر کیدای شي کم شوی وي، چې اصلی علت یې د داعش / اسلامی دولت د خراسان څانګې لخوا په بریدونو کې د پام وړ کموالي ده. د یادونې وړ ده چې د دې نوعیت بریدونو څخه طالبانو ته منسوب ملکي تلفات نهه سلنه لوړ شوي[23].

د ۲۰۱۹ کال په دریمه ربع کې، یوناما د شیعه مسلمانانو پر ضد د داعش / اسلامی دولت د خراسان ولایت لخوا قصدي بریدونه ثبت کولو ته ادامه ورکړې. د اګست په ۱۷، د واده د مراسمو پرمهال په کابل کې د ودونو په یوه تالار کې یو ځانمرګي برید ترسره شو چې په کې شیعه مسلمانانو برخه اخیستې وه. د یاد برید په پایله کې، ۹۱ ملکي وګړي مړه او ۱۴۳ ټپیان شول، همدا راز د یاد برید له امله ۱۵ ماشومان مړه او ۳۵ نور ټپیان شول. د داعش / اسلامی دولت د خراسان ولایت د برید پړه په غاړه واخیسته[24].

یوناما د طالبانو هغه پیښې، چې په قصدي ډول د افرادو او په سلام مخابراتي شبکې پورې اړوند زیربنا یې په نښه کړې، هم مستندې کړي. د اګست په ۲۶، طالبانو یوه اعلامیه خپره کړه چې دغه شرکت او په هغه پورې زیربنا یې نظامي اهداف وبلل او څرګنده یې کړه چې د دوی کارمندان به د "استخباراتي ارګان" پرسونل په توګه وګڼل شي او په ګوته یې کړه چې د هغه چا په وړاندې به قانوني چلند وشي چې د سلام سیم کارت سره ونیول شي. د اعلامیې له خپریدو دمخه، د جولای په ۲۳ د بلخ ولایت په چمتال ولسوالۍ کې، طالبانو یو سړی ونیو چې د سلام مخابراتي شرکت سیم کارت یې درلود او هغه یې د افغان حکومت لپاره په جاسوسۍ تورن کړ، او په چاقو یې سر ور غوڅ کړ. د اګست په ۸ په کابل ښار کې، د سلام مخابراتي شبکې د پلور د څانګې د مشر په موټر کې مقناطیسي ماین وچاودید، چې هغه یې وواژه او ساتونکی یې ټپي کړ. طالبانو د یاد برید پړه په غاړه واخیسته[25]. د سپټمبر په ۱۳، د کندهار په سپین بولدک ولسوالۍ کې، یو۱۷کلن هلک د سلام په مخابراتي دستګاه کې له نیولو وروسته د طالبانو لخوا هغه مهال پر چاقو ووژل شو چې د خپل پلار پر ځای یې د ساتونکي دنده ترسره کوله. یوناما، همدارنګه، هغه پیښې تایید کړي چې په کې د اعلامیې له خپریدو وروسته طالبانو د کابل، کندهار او خوست په ښارونو کې د سلام مخابراتي شبکې پر تاسیساتو بریدونه ترسره کړي.

یوناما یادونه کوي چې په قصدي ډول د ملکي وګړو پر وړاندې بریدونه او / یا وژنه د نړیوال بشردوستانه قانون څخه جدي سرغړونه ده چې ښایي جنګي جرمونو وشمیرل شي[26]. سربیره پردې، پراخ یا سیستماتیک بریدونه د ملکي وګړو پروړاندې، د

---

[22] د ۲۰۱۸ کال په لومړیو نهو میاشتو کې، یوناما ۳۰۳۹ ملکي تلفات ثبت کړي (۱۰۴۰مړه او ۱۹۹۹ ټپیان).
[23] د ۲۰۱۸کال په لومړیو نهو میاشتو کې، یوناما د ملکي وګړو په وړاندې د قصدي بریدونو په تړاو ۱۱۹۴ملکي تلفات (۵۳۳ مړه او ۶۶۱ ټپیان) مستندې کړي چې طالبانو ته منسوب شوي وو، پداسې حال کې چې په ۲۰۱۹ کې یوناما د ۱۳۰۲ ملکي تلفاتو (۳۶۲ مړه او ۹۴۰ ټپیان) ثبت کړې.
[24] د داعش / اسلامي دولت د خراسان څانګې ادعاګانې د یوناما د ملکي وګړو د ساتنې په ډیټابیس کې شتون لري.
[25] طالبانو د دې پیښې ادعا په خپله ویبپاڼه کې په پښتو ژبه کړې، چې په http://shahamat1.com/?p=170317 کې شتون لري
[26] مشترکه ماده؛ اضافي پروتوکول II، مقالې 4 (2)، 13 (2)؛ د روم اساسنامه، مقالې 8 (2) (c) او 8 (2) (i) (e)؛ د ICRC دودیز نړیوال بشري قانون، ۱، 6، 89، 156 قاعدې.

مذهبي او توکمیز اقلیتونه په شمول، په کوم کې چې ملکي خلک په قصدي ډول وژل کیږي ممکن د بشریت پروړاندې جرمونه وګڼل شي[27].

## دولت پلوه ځواکونه

د ۲۰۱۹ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، دولت پلوه ځواکونه د ۲۳۴۸ ملکي تلفاتو (۱۱۴۹ مړه او ۱۱۹۹ ټپیان) لامل شوي[28]، چې دا په ۲۰۱۸ کال کې د ورته مودې په پرتله، ۲۶ سلنه زیاتوالی ښيي. دولت پلوه ځواکونه په ټولیزه توګه د ۲۸سلنې ملکي تلفاتو مسؤل وو. د ۲۰۱۹ کال په لومړیو نهو میاشتو کې، یوناما افغان ملي امنیتي ځواکونو ته ۱۲۶۱ملکي تلفات (۴۸۴ مړه او ۷۷ ټپیان) منسوب کړي، چې د ټولو ملکي تلفاتو د ۱۵ سلنې څخه استازیتوب کوي، چې د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې د ملکي تلفاتو د شمیرو سره ورته والی لري.[29] یوناما ۶۸۲ ملکي تلفات (۴۶۸ مړه او ۲۱۴ ټپیان) نړیوالو ځواکونو ته منسوب کړي، چې د ملکي تلفاتو ۸ سلنه جوړوي، چې د تیر کال د مودې په پرتله څلور چنده زیاتوالې ښيي[30]. یوناما ټولټال ۱۵۵ ملکي تلفات (۷۹ مړه او ۷۶ ټپیان)، چې د ټولو ملکي تلفاتو دوه سلنه جوړوي دولت پلوه وسله والو ډلو ته منسوبوي، په پکتیکا ولایت کې د میشت شاهین ځواکونو له خوا را منځ ته شوي ملکي تلفات، د تلفاتو له لحاظه د خوست ژغورنې د ځواکونو د ارقامو څخه لوړ دي. پاتې ۲۵۰ ملکي تلفات (۱۱۸مړه او ۱۳۲ ټپیان)، نامعلومه یا متعددو حکومت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي چې د ټولو ملکي تلفاتو ۳ سلنه جوړوي.

د حکومت پلوه ځواکونو لخوا ډیری تلفات د ځمکنیو نښتو، وروسته د هوایي بریدونو او بیا د تلاشي د عملیاتو په پایله کې رامنځ ته شوي، چې دا د ۲۰۱۸ کال د دریمي ربعې د پیښو د نوعیت سره ورته والې لري. د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې په پرتله، د پیښې د دغو دریو واړو نمونو په پایله کې د دولت پلوه ځواکونو له خوا را منځ ته شوې ملکي تلفات د ۲۰۱۹ کال په لومړیو دریو ربعو کې زیات شوي، یعني د ځمکې ښکیلتیا په پایله کې (۲۸ سلنه)؛ د هوایي عملیاتو په پایله کې (۲۸ سلنه)؛ او د تلاشي د عملیاتو په پایله کې (۱۶ سلنه) . وروسته لدې چې یوناما په سیستماتیک ډول په مستندولو پیل کړي، د هر کال په لومړیو نهو میاشتو کې د هوایي او د تلاشي د عملیاتو په ترڅ کې د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړ ارقام مستند کړي.

### *هوایي عملیات*

یوناما له ۲۰۱۴ راهیسې په هوایي عملیاتو کې په دوامداره توګه د ملکي تلفاتو زیاتوالی مستند کړې، چې د ۲۰۱۸کال راهیسې نړیوال نظامي ځواکونه د ډیری ملکي تلفاتو مسؤل ګڼل کیږي. د ۲۰۱۹ د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، هوایي بریدونه د ټولټال ۸۸۵ ملکي تلفاتو (۵۷۹ مړه او ۳۰۶ ټپیانو) لامل شوي[31]. دا د ۲۰۱۸ کال د لومړیو نهو میاشتو په پرتله د ملکي تلفاتو په کچه کې په مجموعی توګه ۲۸ سلنه زیاتوالی ښيي. د هوایي بمباریو له امله کابو ۱/۵ ټول ملکی تلفات په هلمند ولایت کې پیښ شوي[32]. پداسې حال کې چې په هوایي بریدونو کې د ټپي شویو ملکي وګړو شمیر ۱۴ سلنه کم شوی، د ملکي مرګ

---

[27] د مثال په توګه، د بشریت پروړاندې جرمونو کې لکه څنګه چې د روم قانون په اوومه ماده کې تعریف شوي، لکه د قتل پوری اړوند اعمال، له منځه وړل یا په سیاسي، توکمیز، ملي، کلتوري، مذهبي، جنډر یا نورو دلایلو له امله د کومې پیژندل شوې ډلې پر وړاندې زورزیاتي؛ او نور ورته غیر انساني کړنې چې په قصدي ډول د لوی رنځ، یا بدن ته جدي زیان رسوي یا رواني یا فزیکي روغتیا ته زیان رسوي، کله چې د برید په اړه د معلوماتو سره د هرډول خلکو په وړاندې د یو پراخ یا سیستماتیک برید برخه وي، ترسره شي.

[28] پدې کې د ښځو تلفات (۱۳۰مړه او ۲۱۶ ټپیان) او د ۸۰۴ ماشومانو تلفات (۳۱۲ مړه او ۴۹۲ ټپیان) شامل دي.

[29] د ۲۰۱۸ کال په لمړیو نهو میاشتو کی، یوناما افغان ملی نظامی ځواکونو ته ۱۲۷۴ ملکي تلفات ( ۴۹۶ مړه او ۷۷۸ ټپیان) منسوب کړي دي.

[30] د ۲۰۱۸ کال په لمړیو نهو میاشتو کی، یوناما نړیوال نظامی ځواکونو ته ۱۴۹ ملکی تلفات ( ۸۲ مړه او ۶۷ ټپیان) منسوب کړي دي.

[31] پدې کې د ښځو۱۱۴ تلفات (۶۰ مړې او ۵۴ ټپیانې) او د ماشومانو ۲۸۴ تلفات (۱۶۳ مړه او ۱ ټپیان) شامل دي.

[32] د ملګرو ملتونو د خوندیتوب او امنیت څانګې په وینا، د ۲۰۱۹ کال په لومړیو نهو میاشتو کې ۱۴۶۵ هوایي بریدونه ترسره شوي په داسې حال کې چې په ۲۰۱۸کال کې د ورته وخت په جریان کې ۹۲۸هوایي بریدونه ترسره شوي چې دا ۳۶ سلنه ډیروالی ښيي. د ۲۰۱۹ کال په لومړیو نهو میاشتو کې ثبت شوي د هوایي بریدونو دریمه برخه په هلمند ولایت کې پیښه شوې.

ژوبلې شمیره ۷۱ سلنه زیاته شوې؛ هوایي عملیات د ۲۰۱۹ کال په لومړیو نهو میاشتو کې د ملکي تلفاتو ترټولو مخکښه د پیښې نوعیت بلل کیږي[33]. پاتې ۷ سلنه، هیچا ته نده منسوب شوې.




یوناما د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو له خوا د عملیاتو په شمول، د ځمکنیو عملیاتو پر مهال د افغان او نړیوالو ځواکونو په ملاتړ د نړیوالو ځواکونو له خوا د هوایي عملیاتو په پایله کې د را منځ ته شویو ملکي تلفاتو مستند کولو ته دوام ورکوي. د سپټمبر په ۲۲، د شپې په ۱۱ بجو، د هلمند ولایت د موسی کلا په ولسوالۍ کې، د ملي امنیت ځانګړو ځواکونو د یوه لوړ ارزښت لرونکي هدف په وړاندې عملیات ترسره کړل. په سیمه کې د حکومت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو ترمنځ نښتې پیل شوې. په افغانستان کې میشتو امریکایي ځواکونو خپل هوایي بریدونه ترسره کړل چې په ترڅ کې د طالبانو او القاعدې موقعیتونه په نښه شول. په ورته وخت کې، دوه موټرې چې د واده له مراسمو څخه بیرته په ستنیدو وې د هوایي برید هدف وګرځول شوې. د راپور د چمتو کولو په وخت کې، یوناما د ۱۵ ملکي وګړو دوژل کیدو ( د پنځو میرمنو او نهو ماشومانو په ګډون) او ۱۱ ملکیان د ټپي کیدو (د ۲ میرمنو او ۶ ماشومانو په ګډون) خبر تایید کړ. د افغانستان د ملي امنیت د شورا په حواله، ادا عملیات د "القاعده د لوړ پوړي ډلې پر وړاندې چې د طالب مشران او یو شمیر طالبان، "د بهرنیو جنګیالیو په لیکو کې ځای په ځای شوي وو" تر سره شول " او د کورنۍ غړي یې توقیف شوي[34]. ولسمشر غني د ملکي تلفاتو په راپورونو خپله اندیښنه څرګنده کړې او د ولایت له والي څخه یې د دې موضوع د تحقیق غوښتنه کړې.[35] په افغانستان کې میشت امریکایي ځواکونو د متحده ایالتونو د اردو د ۱۵-۶ مقرراتو پر اساس پلټنه پیل کړې ده.

د سپټمبر په ۱۹، د ماسپښین په اټکل ۲ بجو د ننګرهار ولایت، د خوګیانیو په ولسوالۍ کې، په افغانستان کې میشت امریکایي ځواکونو د داعش / اسلامی دولت د خراسان څانګې لخوا پر کنټرول شویو ځنګلي ساحو کې پر اشخاصو ګڼ شمیر بریدونه ترسره کړل[36]. نارینه ملکي کارګران په ساحه کې د جلغوزو د غوټیو په را غونډولو بوخت وو. د افغان ملي امنیت د ځواکونو په ګډون،

[33] د ۲۰۱۹ کال د دریمې ربعې په جریان کې، د تیرې ربعې په پرتله د افغان هوایي ځواکونو په بریدونو کې د ملکي تلفاتو کچه لوړه شوې پداسې حال کې چې د نړیوالو نظامي ځواکونو په بریدونو کې د ملکي تلفاتو کچه د تیرې ربعې په پرتله کمه شوې.

[34] د ملي امنیت شورا دفتر په ټویټر ادا بیان په انګلیسي ژبه خپور کړی چې په لاندې انټرنیټي پته د لاسرسي وړ دی: https://twitter.com/NSCAfghan/status/1176212078069276677?s=20.

[35] د لا زیاتو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ لاندې انټرنیټي پته وګورئ: https://www.tolonews.com/afghanistan/activists-relatives-helmand-seek-justicecivilian-deaths

[36] د ننګرهار والي د دفتر لیک چې د ۲۰۱۹ کال د سپټمبر په دریمه نیټه افغان امنیتي ځواکونو ته خبر ورکوي، د یوناما د ملکي وګړو د ساتنې په ډیټابیس کې شتون لري.

ولایتي چارواکو ته د کار د پلان مخکیني خبرتیا ورکړل شوې وه ترڅو د داعش / اسلامي دولت د خراسان څانګې تر کنټرول لاندې خاورې ته د کار د ترسره کولو لپاره دننه شي. داعش /اسلامي دولت خراسان ولایت هوکړه کړې وه تر څو کارکوونکي سیمې ته لاسرسي پیدا کړي. د پیښې په وخت کې، یاد کارګران د سیمې شاوخوا په ګڼ شمیر خیمو کې په خوب ویده ول. د دغه راپور د چمتو کولو په وخت کې، یوناما د هوایي برید په پایله کې د ۱۹ ملکي نارینه وو د وژل کیدو او د ۱۱ ملکي نارینه وو د ټپي کیدو پخلی کړی دی. یوناما هغه ادعاوې تاییدوي چې د قربانیانو له جملې څخه ممکن ځینې یې ماشومان وي او دا چې یو شمیر کارګران لا هم ورک دي. د پیښې سمدستي وروسته، په افغانستان کې میشت امریکایي ځواکونو د وژل شویو اتو تنو کورنیو ته خساره ورکړه، او  و یې منله چې هغوي ملکیان وو.

یوناما په تیرو کلونو کې په دوامداره توګه د هوایي بمباریو له امله د ملکي تلفاتو د ډیریدونکي شمیر او د هدف نیولو د معیارونو د دوامداره بیا کتنې او د شکیلتیا څخه د مخه د احتیاطی تدبیرونو پر اړتیا خپله اندیښنه څرګنده کړې. یوناما د دولت پلوه ځواکونو څخه غوښتنه کوي تر څو ټول احتمالي احتیاطي تدابیر ونیسي څو په هره پیښه کې ملکي وګړو ته د مرګ ژوبلې د تصادفي زیان د اوښتو څخه مخنیوی وکړي او کچه یې راټیټه کړي[37]؛ او د امکان وړ هر څه ترسره کړي څو تایید کړي چې د نړیوال بشردوستانه قانون لاندې هغه هدفونه نظامي موخې دي[38]. یوناما خبرداری ورکوي چې د کافي بشري تایید شویو اطلاعاتو پرته په ټیکنالوژۍ تکیه کول ممکن ملکي وګړو ته د غیر قصدی زیان رسولو چانس زیات کړي .

### د تلاشي عملیات

د ۲۰۱۹ کال په لومړیو نهو میاشتو کې، یوناما د لټون د عملیاتو په پایله کې ټولټال ۲۷۶ ملکي تلفات (۲۰۵ مړه او ۷۱ ټپیان)[39] ثبت کړي، چې د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې په پرتله ۱۶ سلنه زیاتوالی ښيي[40]. د ملکي تلفاتو د نیمايي څخه ډیر د ملي امنیت د ځانګړو ځواکونو لخوا رامنځ ته شوي. د پکتیکا د ارګون په ولسوالۍ کې د دولت پلوه وسله والې ډلې (چې "شاهین ځواکونه" بلل کیږي) لخوا د افغانستان په سویل ختیځ کې د عملیاتو په پایله کې د ملکي تلفاتو ډیریدونکي شمیرې د اندیښنې وړ دي. د ۲۰۱۹ کال په لومړیو نهو میاشتو کې، یوناما د ملي امنیت ځانګړو ځواکونو ته د لټون عملیاتو[41] څخه ۱۴۷ ملکي تلفات (۱۰۵ مړه او ۴۲ ټپیان)[42] منسوب کړي؛ شاهین ځواکونو ته ۲۶ ملکي تلفات، د خوست محافظت ځواکونو ته ۱۳ ملکي تلفات، او دواړو شاهین ځواکونو یا د خوست محافظت ځواکونو[43] ته ۱۱ ملکي تلفات منسوب شوي. یوناما مستند کړې چې د ملي امنیت د ځانګړو ځواکونو، د خوست محافظت ځواک او شاهین ځواکونو لخوا ترسره شوي د لټون عملیات د ملکي تلفاتو ارقام او همدارنګه د ملي اردو لخوا ترسره شوي د لټون عملیاتو په پرتله د مرګ ژوبلې لوړه کچه لري.

د ملکي تلفاتو سربیره، یوناما په پرله پسې ډول د بشري حقونو څخه د تیري او سرغړونو د پیښو په اړه، په خپل سر توقیفونه او ملکي ملکیت ته د زیان په شمول، پدې عملیاتو کې اندیښنې راپورته کړي، چې لاریونونه یې رامنځ ته کړي او د ځایي خلکو تر

[37] د نړیوال بشری دوستانه عرفي قانون په هکله د ICRC څیړنه، ۱۵ قاعده
[38] د نړیوال بشری دوستانه عرفي قانون په هکله د ICRC څیړنه، ۱۶ قاعده
[39] پدې کې د ښځو ۲۶ تلفات (۹ مړې او ۱۷ ټپیانې) او د ۴۴ ماشومانو تلفات ( ۲۱ مړه او ۲۳ ټپیان) شامل دي.
[40] د ۲۰۱۸ کال په لمړیو نهو میاشتو کې، یوناما ۲۳۸ ملکي تلفات ( ۱۹۱ مړه او ۴۷ ټپیان) ثبت کړل. ذکر شوي شمیرې د ځواکونو لخوا منسوب د لټون عملیاتو څخه یوازې ملکي تلفات منعکس کوي. یوناما همدارنګه د نورو پیښو له امله ملکي تلفات هم دې ځواکونو ته منسوب کړي دي، لکه هدفي وژنې او ملکي ملکیت ته قصدي زیان.
[41] له هغه راهیسې چې دا په اصلي بڼه خبره شوې، پدې پیښه کې د ټپیانو شمیر تازه شوی
[42] پدې کې ۷۰ ملکي تلفات (۵۸ مړه او ۱۲ ټپیان) شامل دي چې د ملي امنیت ۰۲ قطعی ته منسوب شوي، چې په ختیځ زون کې فعاله دي؛ ۵۷ ملکي تلفات (۳۲ مړه او ۱۸ ټپیان) د ملي امنیت ۰۳ قطعې ته منسوب شوي، چې په سویل زون کې فعال دي؛ ۲۲ ملکي تلفات (۱۷ مړه او ۶ ټپیان) په مرکزي سیمه کې د ملي امنیت ۰۱ قطعې ته منسوب شوي دي.
[43] پدې کې د لټون عملیات شامل دي چې پکې شاهین ځواکونه او د خوست محافظت ځواک ښکیل وو.

منځ ېې نا امیدي راپورته کړې. د ملکي تلفاتو د ډېریدونکي شمیر په پام کې نیولو سره، یوناما په زیاتیدونکې توګه د لټون د عملیاتو په شرایطو کې د نظامي اهدافو د کره تایید او تثبیت لپاره د حکومت پلوه ځواکونو د نه پاملرنې په اړه اندیښنه لري.

د اګست په ۱۱- ۱۲ شپه، د پکتیا ولایت د زرمت په ولسوالۍ کې د لوی اختر په جریان کې، د شاهین ځواکونو، چې په افغانستان کې د میشت متحده ایالاتو د ځواکونو لخوا حمایه کیږي، په ورته سیمه کې د څلورو مختلفو ودانیو په دننه کې ۱۱ ملکي وګړي وژلې. په قربانیانو کې څلور زده کونکي او د پوهنې وزارت یو کارکوونکې شامل و. د پیښې څخه وروسته، شاوخوا ۵۰۰ لاریون کوونکو د قربانیانو د کورنیو د غړو لپاره د عدالت د کمپاین د یوې برخې په توګه په کابل کې راټول شوي وو. د لاریون کوونکو استازو د افغانستان د دفاع وزیر او د ملي امنیت عمومي رییس سره ولیدل[44]. د اګست په ۱۴، د ملي امنیت شورا یوه اعلامیه خپره کړه چې د ملکي تلفاتو د تورونو او د پیښې په تړاو د حساب ورکونې د اقداماتو د پلټنې غوښتنه کوي. د اګست په ۱۵، د دفاع او کورنیو چارو وزیرانو، د ملي امنیت عمومي ریاست، او د ناټو غوخ ملاتړ / په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو قوماندان جنرال ملر په ګډه د پکتیا ولایت ګردیز څخه لیدنه وکړه؛ د راپورونو سره سم، یادې پیښې باندې د دغه لیدنې په جریان کې بحث وشو. د ملي امنیت شورا دفتر تایید کړه چې د پیښې په اړه تحقیقات په لاره اچول شوې دي.

د سیپټمبر په ۴ د شپې په لس نیمو بجو د ننګرهار ولایت د جلال آباد په ښار کې، د ملي امنیت ځانګړو ځواکونو په یو استوګن ځای د لټون عملیات ترسره کړل. د ملي امنیت ځانګړو ځواکونو نارینه د پوښتنو ګرویږنو لپاره ونیول او ښځې او ماشومان یې د ګاونډي په کور کې جلا کړل. څلور سړي له نږدې واټن څخه ویشتل شوي او په دریو جلا خونو کې وژل شوي. اته تنه نور د لنډ وخت لپاره توقیف او په بله ورځ خوشې شول. د ملي امنیت ځانګړو ځواکونو په وینا، د عملیاتو هدف د داعش / اسلامی دولت د خراسان څانګې د مالي ملاتړ کونکي او د ننګرهار ولایت لپاره د داعش / اسلامی دولت د خراسان د څانګې مالي مدیر و[45]. د سیپټمبر په ۵، د عملیاتو نه وروسته، د قربانیانو د کورنۍ غړو مړي د ولایت مقام دفتر ته راوړل او د عدالت غوښتنه یې وکړه. کابو ۸۰۰ کسانو لاریون وکړ. په هماغه ورځ، ولسمشر غني اعلان وکړ چې د ملي امنیت د لوی رییس ستانکزي استعفا یې منلې، او ویلې یې دي چې "د یو مسؤل دولت په توګه، موږ د ملکي تلفاتو په اړه د صفر کچې زغم لرو[46]". هغه وړاندې زیاته کړه چې لوړې څارنوالۍ ته یې د پیښې په اړه د تحقیقاتو او عدالت ته د عاملینو د راکښولو" امر کړی[47]. د ملي امنیت شورا دفتر تایید کړه چې د پیښې په اړه تحقیقات روان دي. سربیره پردې، سرچینو تایید کړه چې ولسمشر غني د عملیاتو د څلورو قربانیانو پلار ته د تسلیت مراتب وړاندې کړل. یوناما د ملکي تلفاتو د مخنیوي لپاره د ملي امنیت د ځانګړو ځواکونو د چلند د بدلون په تړاو د ولسمشر غني څرګندونې هم په پام کې نیسي او په دې مسله کې د پرمختګ لیدو ته سترګې په لار ده.[48]

یوناما یوځل بیا تکراروي چې د شخړې د هر اړخ له خوا د هغو اشخاصو وژنه چې په جګړه کې هیڅ ډول فعاله برخه نه اخلي، د جینوا د کنوانسیون د دریمې مادې له خوا په ښکاره په هر وخت او هرځای کې منع شوي دي، او دا ممکن جنګي جرم وګڼل شي. یوناما همدارنګه ټینګار کوي چې د بشري حقونو د نړیوال قانون له مخې د یو کس غیرقانوني وژنه د ژوند له حق څخه سرغړونه ده.

---

[44] د ملي امنیت شورا دفتر په انګلیسي ژبه په ټویټر کې اعلامیه خپره کړه، چې په https://twitter.com/NSCAfghan/status/1161686142779056129 کې د لاسرسي وړ ده

[45] د ملي امنیت ۳ مطبوعاتي اعلامې د ۲۰۱۹ د سپتمبر ۵ څخه چې د یوناما د ملکي وګړو د ساتنې ډیټابیس کې شتون لري.

[46] د افغانستان ولسمشر دا اعلامیه په انګلیسي ژبه په ټویټر کې خپره کړې، چې په https://twitter.com/ashrafghani/status/1169589280911560704 کې د لاسرسي وړ ده

[47] د افغانستان ولسمشر دا اعلامیه په انګلیسي ژبه په ټویټر کې خپره کړې، په https://twitter.com/ashrafghani/status/1169589280911560704 کې د لاسرسي وړ ده.

[48] د افغانستان ولسمشر دا اعلامیه په انګلیسي ژبه په ټویټر کې خپره کړې، په https://twitter.com/ashrafghani/status/1169589285969899521 کې د لاسرسي وړ ده.

یوناما په افغان چارواکو غږ کوي چې سمدستي غیر قانوني وسله والې ډلې او ملیشې د خوست محافظت ځواک او شاهین ځواکونه په شمول، له منځه یوسي او بې وسلې یې کړي، یا یې د ملي امنیت د ځواکونو په لیکو کې د قوي ارزونې د پروسې وروسته، په رسمي ډول په کار وګماري. د ملي امنیت د ځانګړو ځواکونو د عملیاتو په اړه روڼتیا او حساب ورکونې ته وده ورکړي چې داسې بریښي چې د افغانستان د ملي امنیت ځواکونو د مراتبو د سلسلې [49] بهر وي او د حساب ورکونې د تامین لپاره د بشري حقونو څخه سرغړونې او د نړیوال بشري قانون څخه د سرغړونې په ټولو تورونو باندی تحقیق وکړي.










[49] د مثال په توګه د شمشاد تلویزیون سره د ولسمشر غني مرکه د ۲۰۱۹ کال د سپتمبر په ۲۱، په 10: 10::59 دقیقو پیل کیږي، په https://www.youtube.com/watch?v=M_4uR6dBCus. کې د لاسرسي وړ ده.

* د سلنې د بشپړو نکتو د غونډولو له امله، د چارټ د انفرادي ټوټو مجموعه د 100 سلنې پرځای یوازې 99 سلنه په ګوته کوي.

**ماشومان او وسله واله شخړه**

په افغانستان کې وسله والو نښتو پر ماشومانو سخت تاثیر اچولی ده. د ۲۰۱۹ کال د جنوري له ۱ نیټې څخه بیا د سپټمبر تر ۳۰ پورې، یوناما د ماشومانو ټولټال ۲۴۶۱ تلفات (۶۳۱ مړه او ۱۸۳۰ ټپیان) ثبت کړي، چې دا د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې په پرتله ۱۱ سلنه زیاتوالی ښیي. پداسې حال کې چې د ماشومانو د مړینې تلفات اته سلنه کم شوې، د ټپي ماشومانو په شمیر کې ۲۰ سلنه ډیروالی راغلی.

د ماشومانو په تلفاتو کې زیاتوالی په لومړي سر کې د ځانمرګو او غیر ځانمرګي چاودیدونکو توکو په بریدونو کې د پام وړ زیاتوالي او همدارنګه د ځمکنیو نښتو په پایله کې، د وسلو د غیر مستقیم سیستم د کارولو په شمول، رامنځته شوي، چې دې ۲۰۱۹ کال د ولسمشرۍ ټاکنو د رای ورکولو په ورځ په ماشومانو اثر اچولی دی . ځمکنۍ نښتې د ماشومانو د تلفاتو تر ټولو عمده لامل بلل کیږي، ورپسې د ځانمرګي او غیر ځانمرګي چاودیدونکو توکو بریدونه او د جګړې څخه پاته شونې چاودیدونکي توکي دي. ماموریت د جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو په پایله کې د ملکي تلفاتو په اړه چې د تلفاتو ۷۷ سلنه ماشومان جوړوي بیا اندیښنې تکراروي.

***تعلیمي او روغتیایي تاسیساتو باندی اغیزلرونکي بریدونه***

ماشومان هم په نا متناسب ډول په ښوونځیو او روغتونونو کې د بریدونو په واسطه اغیزمن کیږي، کوم چې زده کړې او روغتیایی خدماتو ته د دوی لاسرسی له خنډ سره مخ کوي. د جولای د ۸ څخه تر ۹ پورې د وردګ ولایت د دایمرداد په ولسوالۍ کې د ملي امنیت ځانګړو ځواکونو په یوه روغتیایي کلینیک چې د افغانستان لپاره د سویډن د کمیټې لخوا حمایه کیږي او د راپور سره سم د ولسوالۍ د نیمايي خلکو لپاره روغتیایي خدمات رسوي، عملیات ترسره کړل. د ملي امنیت ځانګړو ځواکونو یو ځوان نارینه چې د یوه ناروغ سره کلینیک ته تللی و، د ودانۍ نه بهر په ډزو ویشتلی او وژلی دی او بیا یاد ځواکونه مرکز ته ننوتي او خونه په خونه تلاشي يې ترسره کړې. ملي امنیت دوه سرې، یو محافظ او د لابراتوار تخنیکر، له پاتې ډلې څخه جلا کړي او هغوی يې بهر ته بولي. د انګړ دننه هر چا ته خبرداری ورکړل شوی چې د یوه ساعت لپاره به نه وځي. له لسو څخه تر پنځلس دقیقو وروسته، د ډزو غږونه واوریدل شول، د لابراتوار د تخنیکي کارکونکي او ساتونکي مړي له کلینیک څخه شاوخوا ۲۰۰ متره لرې وموندل شول، چې دواړه يې په سر ویشتل شوي وو. یوناما د دریو ملکي وګړو وژنه تایید کړې. د ملي امنیت شورا دفتر تایید کړه چې د پیښې په اړه تحقیقات روان دي. د ۲۰۱۹ کال د جولای په ۱۳، د دې پیښې په ځواب کې، طالبانو په میدان وردګو په ولایت کې د دوی تر کنټرول لاندې په دریو بیلابیلو سیمو کې د کلینیکونو د تړلو امر وکړ. د ۲۰۱۹ کال د جولای په ۱۹، طالبانو موافقه وکړه چې ټول تړل شوي کلینیکونه له سره پرانیستل شي.

د صحي پاملرنې د اغیز لرونکو پیښو په اړوند، د اپریل په ۱۱، طالبانو د روغتیا د نړیوال سازمان فعالیتونه بند کړي وو، چې په ټولیزه توګه يې د ګوزڼ د واکسین ټول کمپاینونه ودرول. د سپټمبر په ۲۵، طالبانو اعلان وکړ چې دوی به د دوی تر کنټرول لاندې سیمو کې د نړیوال سازمان په فعالیتونو باندې بندیز لرې کړي، کوم چې د ۲۰۱۹ کال په اپریل کې نافذ شوی و. خو، د نړیوال روغتیا سازمان د فعالیتونو د بیا پیل کولو اجازه د شرطونو سره مله وه. په ځانګړي توګه، طالبانو اشاره وکړه چې د واکسین کمپاینونو ته به یوازې په روغتیایی مرکزونو کې اجازه ورکړل شي او د کور په کور د واکسین کمپاینونو باندې بندیز لاهم په ځاي پاتې دې. د ۲۰۱۹د اکتوبر تر ۱ پورې، افغانستان د ګوزڼ ټولټال ۱۶ پیښې ثبت کړې، چې د پولیو ویروس په جغرافیه کې په سویل او ختیځ سیمو کې محدود دی. د دې ۱۶ قضیو څخه ۱۵ هغه يې د هغه سیمو څخه راپور شوي چیرې چې واکسین کونکو د ماشومانو په لاسرسي کې ستونزه درلوده.

*له ۲۰۱۹ کال راهیسې، یوناما په منظم ډول د ملکي تلفاتو مستندول په افغانستان کې د شخړې ښکېلو اړخونو ته منسوبوي چې د یو ثابت میتود څخه کار اخلي، کوم چې د کال په کال د تحلیل او راپور ورکولو ته اجازه ورکوي. د ملکي وګړو د ساتنې په*

*اړه د یوناما کار د نړیوال بشردوستانه قانون او د بشري حقونو د نړیوال قانون په اصولو ولاړ دی، او د دې میتودولوژي په غوره کړنو او د ملګرو ملتونو د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنر دفتر لارښود پر بنسټ ولاړ ده. د ملکي تلفاتو شتون پدې معنی ندی چې سرغړونه شوې وي، پداسې حال کې چې د تلفاتو ډیر شمیر ممکن د سرغړونو نښې وي یا د زیان نمونې منعکس کوي. یوناما د ملکي تلفاتو په اړه د معلوماتو ترلاسه کولو لپاره جګړو کې ښکیلو خواو سره کار کوي او د ملکي تلفاتو په اړکلو کې دغه معلومات په پام کې نیسي. یوناما د ملکي تلفاتو د تعقیب لپاره په میتودونو کې تویېرونه، د نړیوال بشردوستانه قانون تفسیرونه، او د معلوماتو سرچینې په پام کی نیسي چې په ځانګړي ډول د ملکي تلفاتو په ارقامو کې په بیلابیلو پایلو کې تري ګټه اخیستل شوې ده. لکه څنګه چې ګډ هدف د ملکي تلفاتو کمول دي، یوناما د جګړې د ښکېلو اړخونو سره خبرو ته ژمن دې ترڅو د ملکي وګړو ساتنه وکړي.*[50]

[50] د یوناما د میتودولوژي په اړه د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۸ کال کلنی راپور وګورئ، (۲۳ فبروري ۲۰۱۹)، په آنلاین بڼه په دې انټرنیټي پته https://unama.unmission.org/protication-of-civians-report موجود دی.